# قبائلی امن جرګه

**ارباب محمد طاهر خان خلیل**

عوامي نېشنل پارټۍ په اتم اکتوبر ۲۰۰۹ء وزیراعلی هاؤس پېښور کښې د قبائلو امن جرګه راوغوښتله چې مشر مېلمه پکښې د پارټۍ مرکزي صدر اسفندیار ولی خان وۀ. په دې موقعه د پارټۍ صوبائی صدر سېنېټر افراسیاب خټک، صوبائي وزیران، د پارټۍ عهدېداران او د ټولو ایجنسیو او ایف آرز سره تعلق لرونکی د پارټۍ عهدېداران او قبائلی مشران موجود وو. د قبائلی جرګې بنیادي مقصد په قبائلي علاقو کښې د امن و امان قائمول، د تعلیم او روزګار موقعې، د صحت اسانۍ ورکول او پرمختګ وۀ.




قبائلی امن جرګه په داسې وخت کښې راوغوښتې شوه چې غېرت مند قبائلي اولس د دهشت ګردو په لاسونو کښې یرغمال دے او په قبائلي علاقو کښې د ټولې دنیا نه دهشت ګرد راټول شوي دي او یو متوازي حکومت ئې جوړ کړے دے چې پکښې عرب، ازبک او چیچن وغېره شامل دي، کوم چې د سوړ جنګ په زمانه کښې د روس په خلاف د پښتنو خاورې ته راجمع کړې شوي وو. دوي ته تربیت، وسله او پېسه ورکولې شوه او سرپرستي ئې مذهبي بنیاد پرستو ته ور په غاړه کړې شوه. کۀ هغه وخت زمونږ د مشرانو فخر افغان باچا خان او رهبر تحریک خان عبدالولي خان خبره منلې شوې وے چې هغه وخت ئې د نننو حالاتو نشاندهي کړې وه او وئیلي ئې وو چې دا نن په افغانستان کښې کومه لوبه روانه ده، د دې د اثراتو نه به پاکستان او نوره دنیا په امان کښې پاتې نۀ شي. د هغوي خبره ونۀ منلې شوه، کومه چې نن ټکي په ټکي صحیح ثابته شوه. دهشت ګردو خپل نېټ ورک ورو ورو په ټوله دنیا کښې منظم کړو چې نن ترې ټوله دنیا او په

خصوصي توګه د پُولې دواړو غاړو ته پښتنانۀ په اور کښې ولاړ دي.

جرګې ته د پارټۍ مرکزي صدر اسفنديار ولي خان په خپل تقرير کښې ووې چې د ماضي د فوځي حکمرانانو او آمرانو د غلطو پاليسيو د لاسه نن قبائلي عوام د دهشت ګردو په لاسونو کښې يرغمال دي. نن زمونږ جوماتونه، سکولونه، جنازې، بازارونه او کورونه محفوظ نۀ دي. دا طالبان نۀ دي دا دهشت ګرد او تخريب کار دي داسې ظلمونه خو چنګيز خان او هلاکو خان هم نۀ وو کړي.

د بد قسمتۍ نه کله چې په افغانستان کښې د نيټو فوځونو د دهشت ګردو خلاف کارروائي کوله نو په وزيرستان کښې د نيک محمد او جلال الدين حقاني په رنګ دهشت ګردو ته د ګلونو امېلونه په غاړه کولے شول چې هيچا ئې نوټس نۀ اخستو، مونږ د حالاتو نزاکت په نظر کښې ولرۀ او د قبائلي علاقو سره سره مو د ټولې پښتونخوا دورې شروع کړې او د دې خبرې نشاندهي مو وکړه چې د وزيرستان نه پس باجوړ، پوره قبائلي علاقه او ټولې پښتونخوا ته به دا اور راخورېږي.

اسفنديار ولي خان غوښتنه وکړه چې فاټا ته دې د پښتونخوا په صوبائي اسمبلۍ کښې نمائندګي ورکړې شي چې په هم دې طريقه د دوي د زياتو مسئلو هوارېدل ممکن دي. د دې خبرې جرګې پوره پوره مرسته وکړه. هغوي په ايف سي آر کښې د تراميمو په حواله ووې چې مونږ سېنېټر افراسياب خټک او لطيف اپريدے د دې دپاره غوره کړي دي. زمونږ د طرفه دا غړي تجاويز ورکوي.

اسفنديار ولي خان ووې چې دهشت ګرد د پښتني معاشرې پېداوار نۀ دے، بلکې دا دهشت ګرد د روس د مقابلې دپاره د ټولې دنيا نه د پښتنو خاورې ته راجمع کړې شوي دي او د ۲۵ لکو نه د زياتو پښتنو وينه وبهولې شوه او د دې دهشت ګردو د ختملو پورې به خدائے خبر چې د نورو څومره بې ګناه پښتنو وينې تويولې شي.

هغوي ووې چې نن د فاټا د ترقۍ ضرورت دے چرته چې سکولونه، هسپتالونه او سړکونه د نشت برابر دي.

اسفنديار ولي خان غوښتنه وکړه چې فاټا ته دې د پښتونخوا په صوبائي اسمبلۍ کښې نمائندګي ورکړې شي چې په هم دې طريقه د دوي د زياتو مسئلو هوارېدل ممکن دي. د دې خبرې جرګې پوره پوره مرسته وکړه. هغوي په ايف سي آر کښې د تراميمو په






حوالــه ووې چــې مــونږ ســېنېټر افراسیاب خټک او لطیف اپریدي د دې دپـاره غــوره کــړي دي. زمــونږ د طرفه دا غږي تجاویز ورکوي.

هغوي ووې چې تر څو په قبائلي علاقه کښې د دهشت ګردو پوره نېټ ورک نـهٔ وي خـتم کـړے شـوے، تـر هغـې د امـن قیـام ممکـن نـهٔ دے. د ملاکنډ د اپرېشـن پـه حقله اسفندیار ولـي خـان ووې چـې دا هلـه کامیـاب شـو چـې سـیکیورټي ادارو او عوامـو پـه شریکه د دهشت ګردو خلاف کارروائی وکړه. هغوي ووې چې مونږ نظـام عـدل د ملاکنـډ د عوامـو پـه غوښـتنه نافـذ کـړے دے چې مـونږ پـرې تـر اوسه کلک ولاړ یو. هغوي ووې چې د بدقسمتۍ نه زمونږ حکمرانانو په ماضي کښې تر لاسه شوے امداد په ټیک طریقه نهٔ دے استعمال کړے، دغه وجه ده چې نن زمونږ دپاره په دغه حواله سخت قوانین جوړولے شي، نن زمونږه خاوره زمونږ نه خپل حق غواړي چې مونږه به ئې په هر حال کښې پوره کوو. کهٔ په دې کښې زمونږ سرونه هم لاړ شي نو پـروا نشـته. مونږ پـه جلال اباد کښـې د خپـل بابـا سـره وعـده کـړې ده چې مـونږه بـه ستاسو منزل ته خامخا رسو. مونږ به پښتنو بچو لـه خپل حق خامخا ګټو، څکه چې مونږ هـم پـه دنیا کښې په عزت د اوسېدو حق لرو.

جرګـې تـه صـوبائي صـدر سـېنېټر افراسـیاب خټک په خپلو خبرو کښې ووې چې نن د قبائلو پـه خاوره اور لګولے شوے دے، مونږ به په شریکه د دې مقابله کوو، څکه چې مونږ د یو نیکهٔ بچي یو. مونږ د خپلو قبائلي ورونـو سـره اوږه پـه اوږه ولاړ یـو. هغــوي ووې چــې زمــونږ فــوځي حکمرانــان د قبائلو مجرمـان دي چـې د ټولـې دنیـا دهشت ګرد ئې د دوي خاورې ته راټول کړي دي. نـن پـه قبائلي سیمه د دهشـت ګـرو مکملـه قبضـه ده چـې خاتمـه کـول ئـې د وخـت ضـرورت دے. هغـوي ووې چـې زمونږ د کامیابۍ حکمت عملۍ په وجه په ملاکنډ کښې دهشت ګردو مـاتې وخوړه. هغـوي د مرکزي حکومـت نـه مطالبـه وکـړه چـې پـه قبائلي علاقـو کښـې دې هم د ملاکنـډ ډویـژن پـه شـان کـارروائي وکړي. هغوي ووې چې اې این پي د دهشت ګردو په خلاف د خپـل اولس سره ولاړه ده، کوم قوتونـه چې د دهشت ګردو پـه شا ولاړ دي، هغـوي بـه ډېر زر خلقو ته په ډاګه شي. دوي ووې چې پـه راروانو وختونـو کښـې بـه اې ایـن پـي پـه قبائلي علاقـو کښې د ټولو نه لوئے قوت وي.